

صدیق کاوون توفاني

# د مینی په نامه

د زړه په شاړه کرونده کې مې د هیلو سپرغی وکرلې،
د ښاپیری په څنو وځنګیدم. او دا آرمان
مې د تیرو په ساړه ذهن کې، بیا
مینې په نوم، د تودې
د زړه په وینو ډیوې بلې کړلې.
په دښته کې مې، د شپې
په سپیرو شګو، د ګلونو د پښو ځایونه ولټول.
او د بادونو په شګلن بهیر کې،
د سرو غوټیو د مزار خلي ته ودریدم
او د خدای ټول کلی مې،
چې شپه او ورځ پکې د اوښکو بارانونه کیدل
په یوې اوښکې،
په یوې وروستنی اوشکې،
پسې ولټاوه .
چې د غمونو د ځپرکي وروستی پاڼې ته وروستی ټکی شي

www.esalat.org

خو ته به وایې چې وروستۍ اوښکه،

شوه، مرغۍ

هوا ته، او

لاړه.

* * *

کله چې باغ کې، تبر شین شو د نارنجو په ځای ،

د شنو ونو د مړینې افسانه یاده شوه، ماته

او زړه مې، وټوکیده،

لوی شو،

بیرته ورژیده.

ټوټې، ټوټې شو،

پاڼې پاڼې شو،

د باغ په ونو وغوړیده.

د کوم بې نومه، نا څرګنده « چا » خبرو مې په غوږ کې انګازې کولې:

کله چې ونې مري، شمال لګیږي ،

کله چې ونې مري، نرۍ نرۍ باران وریږي ،

کله چې ونې مري، آسمان په چیغو چیغو ژاړي،

سیندونه ساه ورکوي،

او چپه کیږي غرونه،

او بیا له کومه نا څرګنده ځایه،

یو لاس راوزي، چې رڼا خپروي،

یو لاس راوزي، چې بادونه تړي،

یو لاس راوزي، چې له ډاره یې، د تبر خوله کې ژبه سوزي "

خو ما کتل چې ونې مړې شوې،

ګلان ورژېدل

په شنو باغونو کې د تبر ترانه جاري شوه،

په وچو څانګو د مرغیو ځالې ونړیدې،

او خونړۍ سیلۍ په ټول کلی کې وچلېده

شمال ونه لګېده،

نرۍ نرۍ باران و نه وریده

غرونه و نه نړېدل،

سیندونو ساه ورنه کړه،

او د آسمان له تکو شنو سترګو نه، یو ځاځکی ونه څڅېده .

له ناځرګنده ځایه،

د باغ په لوري لاس ونه غزیده،

د خدای په ټول کلي کې،

چا د زخمي نښترو سوې ساندې وانه وریدې،

چا د سپلیو وزر ونه تاړه،

چا د تبر ژبه غوڅه نه کړه.

خو د بې نومه ناځرګنده "چا" خبرې مې تر اوسه لا په ذهن کې دي .

* * *

اوس لکه ستړي سرګردانه مرغه،

د باد په ورانو کنډوالو الوزم،

د باد په ورانو کنډوالو کې، مې د هیلو،

سره ګلان،

لټوم .

آلمان اپریل (۲۰۰۰)

## دمينې شرط

ماته ياد شي چې ته پيغله، زه زلمی وم

په رګو کې مو سکروټې ګرځيدلې

ټول وجود مو اور د مينې و نيولی

له ليمو نه مو سپرغی پورته کيدلې

پسرلی و،

ټوله ښايسته وه، دنيا

د وږمې کاروان،

شيندلې وو،

عطرونه .

د ځوانی په ميو مست وو موږه دواړه

له غمونو مو خالي وو، زلمي زړونه .

زه په مينه در نژدې شوم چې دې ښکل کړم،

د هوس په دنيا سم کړم قيامتونه

تا مې لاس په شونډو کيښود،

بيادې وويل:

اول مې تور پيکي ته، چې

سورګل،

راوړه،

کړه د سورکو شونډو سرونه. بيا مې ښکل

او سورګل،

زموږ د ځواني مينې، شرط شو.

زه له هغې ورځې وروسته بيا تر اوسه،

سرګردانه په سرو ګلو پسې ګرځم.

سمې لټومه، کله

www.esalat.org

کله،

غرونه،

کله دښتي او میرې،

کله،

باغونه.

له هر چانه د سرو ګلو پته غواړم،

په سرو ګلو پسې لویې لارې نغاړم.

نه مې ستا د پیکي ګل،

چیرې،

پیدا که،

نه پوره مو د نیمګړې مینې،

شرط،

شو

نه مې ښکل کړل،

د سرو شونډو، ستا

سرونه

سمسور شول نه ،

نښتیځلي،

آرمانونه .

(۱۳- ۸- ۱۹۹۵) آلمان

شاعر: صدیق کاوون توفاني

ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود

www.esalat.org